(١)

**د شریعت د لويو نښو له جملي څخه يو هم زغم او آساني ده.**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ»** ژباړه:« الله پر تاسي اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي»، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، چې پخپل حدیث کې فرمايلي:زه د حنیف دین سره په زغم او آسانی رالیږل شوی یم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

بی له شکه د اسلامي شریعت د عظمت او لوی والي نښي او نښاني دومره ډیر دي چې نشو کولای وشمیرو، او هغه لوی او ښکلي څیز چې اسلامي شریعت د نورو څخه جلا کوي هغه زغم تحمل آساني ده چې په ډیرو لوړو مفاهیمو سره ورته نظر شوی، په هغه کې هیڅ ډول سختی او مشقت نشته، او دا بنسټ ځيني هغه تندروی ډلي نشي لمنځه وړلای چې ځان هغوي اسلام پاله بولي، ځکه دوي د هغه کسانو له جملي څخه دي چې سختی او تندروی کوي پرخلکو د سختی دروازی خلاصوي او ډیری خلک د دین او د دین سره د التزام په نوم د افراطیت لپاره لاره پرانیځي، تر هغه حده پوري چې تندروی د دوي لپاره د رقابت ډګر ګرځیدلی،او پخپله ژبه دا حال بیانوي او وایي څوک چې ډير تندروي وکړي هغه ترټولو ډير دیندار او د خداي نه ویریدونکی دی، دوی باید پدي پوه شي

چې دا فکر ددوي په جهالت او ناپوهۍ باندې دلالت کوي الله تعالی فرمايي:« **وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلدِّينِ مِنْ حَرَجٍۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَٰهِيمَۚ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِۚ**» ژباړه:« هغه تاسي د خپل کار لپاره غوره کړي ياست او په دين کښي يې پر تاسي څه تنګي نه ده راوستې. د خپل پلار ابراهيم (ع) پر ملت (طريقي باندي) ثابت اوسئ. الله مخکي هم ستاسي نوم (مسلمان) ايښی ؤ او پدې (قُرآن) کښي هم (ستاسي همدغه نوم دی). تر څو چې پېغمبر (ص) پر تاسي شاهد وي او تاسي پر خلکو شاهدان اوسئ.».

په واقعيت کي بخښنه او زغم په اسلام کې يواځي دا نده چې په خوله وويل شي او يا هم کوم شعار وی چې پورته شي، بلکي دا يو الهي منهج او د اساسي مباديو د جملی څخه دی چې الله تعالی د هغه پواسطه د بندګانو سره معامله کوي، او خپلو بندګانو ته ددې امر کوي چې خپلو منځو پداسي طريقه چال او چلند وکړي، لکه چې الله تعالی فرمايی:« **لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا**» ژباړه:«الله هيڅ نفس ته د هغه له وسي څخه پورته مسئوليت نه متوجه کوي.» او په بل آيت کې فرمايي:« **يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ**» ژباړه:« الله پر تاسي اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي» او په بل ځاي کې فرمايي:« **يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا**» ژباړه«الله پر تاسي د بنديزونو اسانول غواړي، (ځکه چې) انسان بې وسه (ضعيف) هست کړای شويدی.»، او يو بل ډير اميد ورکونکی ايت کې الله تعالی خپلو بندګانو په لور د رحمت او بخښني دروازې پرانيزي او فرمايی:« **قُلْ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُواْ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ**»ژباړه:« [اې پېغمبره (ص)!] زما هغو (مؤمنو) بندګانو ته، چې پر خپلو ځانونو يې تيری کړی دی، ووايه: د الله د رحمت څخه مه ناهيلي کيږئ؛ په يقيني ډول الله ټولي ګناوې بخښي؛ هغه ښه بښونکی او مهربان دی.» او همداسی فرمايي:« **وَرَبُّكَ ٱلْغَفُورُ ذُو ٱلرَّحْمَةِ**» ژباړه:« ستا رب

خورا بښونکی او رحم کونکی دی.» او په بل ایت کې فرمايي:**« إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ»** ژباړه:« البته څوك چي دا كار پرېږدي، خپل كړه وړه سم كړي او څه يې چي پټ كړي ول، د هغو په بيانولو پيل وكړي، هغو ته به زه بښنه وكړم او زه لوی ښه توبه قبلوونکی او پوره رحم کوونکی یم.».

د ابی هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: په ريښتيا سره كله چې الله تعالى بندگان پيدا كړل، خپل د عرش د پاسه يي وليكل: چې زما رحمت د غضب نه مخكي دی.، او الله تعالى په يو قدسي حديث كې فرمايي: اي د آدم اولاده**!** كه ته مانه وغواړی او دعاء وكړي بی شكه هر هغه گناه چې له تا شوي زه بخښم، ای د آدم اولاده**!** كه ته ما سره پداسی حال كې ليدنه وكړي چې پرتا د ځمكي پراندازه گناهونه راټول وي، او بيا پداسی حال كې وگوري چې ماسره دی شريک نه وي كړی نو زه تاسره د ځمكي په اندازه د بخښني سره ليدنه كوم.

همداسی الله تعالى پخپل كتاب په ډيری ځايونو كې بندگانو ته پدی امر كړی چې د تحمل او زغم څخه كار واخلي لكه چې فرمايی:**« خُذِ ٱلۡعَفۡوَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡعُرۡفِ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡجَٰهِلِينَ»** او په بل آيت كې فرمايي:**« وَلَا تَسۡتَوِي ٱلۡحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُۚ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي بَيۡنَكَ وَبَيۡنَهُۥ عَدَٰوَةٞ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٞ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٖ»** ژباړه:« او [اې پېغمبره (ص)**!**] نېکي او بدي يو شانته نه دي؛ ته د بدۍ مخنيوی په هغي نېكۍ سره وكړه چې هغه ډېره ښه وي، (ته به وگورې) چې ستا سره چې د چا دښمني لوېدلې وه، هغه دې لكه صميمي دوست گرځېدلی دی.* دغه صفت يوازي د صبر كوونكو په برخه كيږي او دغه مقام يوازي هغو خلكو ته چې د غټې برخې خاوندان دي، په برخه كيږي.»او په بل ځاي كې فرمايي:**« وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٌ»** ژباړه:« هغوی بايد عفوه وكړي او

ورڅخه تېر دي شي. ايا تاسي نه غواړئ چي الله بخښنه درته وکړي؟ - الله ښه ښښونکی او ډېر مهربان دی.».
بی له شکه که یو څوک د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سيرت او اخلاقو کې فکر او تدبر وکړي په يقين سره به پدي پوه شي چي نبي کريم صلی الله علیه وسلم د یو بل په منلو او اسانه نيونه کې يو غوره مثال او الګو خپل امت او د ټول بشر لپاره دی، پدی هکله د مومنانو مور حضرت عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي: هر کله چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دوو کارونو او امرونو منځ کې واقع کيدولو تل يي اسانه لار غوره کوله چي په هغه کې به ګناه شامله نه وه، ولی که ګناه ورکی شامله وای نو تر ټولو لری کس دی کار ته وو او هيڅکله نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل ځان لپاره انتقام نه اخيستلو، مګر په هغه حالت کې چي الهی حرمت ترپښو لاندی کيدلو، نو د خدای لپاره به د هغه نه يي انتقام اخيستلو.
غوره ده چي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د سيرت ځينې نمونې وړاندی کړو او نظر واچو چي په څه حکمت او نيکي سره خلک الله تعالی لور ته بلل، د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت دی چي فرمايي: يوه ورځ زه د نبي کريم ترڅنګ وم يو سړی هغه ته راغي او وی ويل: ای د الله رسوله! ما داسی يو کار کړي چي پرما بايد حد جاري شي نو هغه پرما تطبيق کره، انس وايي: پيامبر صلى الله عليه هغه نه پوښتنه ونکړه چي کار يی ترسره کړی، د لمونځ وخت راورسيده نو هغه سړي د نبي کريم سره لمونځ اداء کړ، کله چي نبي کريم لمونځ تمام کړ ، هغه سړی را پاڅيده او وی ويل: ای د الله رسوله! ما داسی کار کړي چي بايد پرما حد تطبيق شي نو د الله کتاب په ما تطبيق کړه، پيغمبر صلی الله عليه وسلم وويل: ايا تا زمونږ سره لمونځ ونکړ؟ هغه سړي وويل: بلي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: همدا وو چي الله تعالی ستا ګناه وبخښله.

د ابي هريره رضي الله عنه څخه راویت دی چي فرمايي: يو بانډه چې راپاڅېده او په جومات کې يي بول وکړ، نو خلکو وغوښتل چې هغه ته سزاء ورکړي، پيغمبر صلی الله عليه وسلم هغوي ته وويل: هغه پرېږدی، او د هغه پر بولو يو سطل اوبه واچوي، ځکه چې تاسی آسانۍ باندې رالیږل شوي ياست، نه سختي کوونکي او تندروي.، او بي بي عايشه رضي الله عنها فرمايي: يو ماشوم د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پر جامو بول وکړ، نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوبه وغوښتل او پر جامو يي واچول.
د حضرت معاويه بن حکم سلمي رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي: يوه ورځ ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره لمونځ کولو، په ناڅاپه ډول يو چا پرنجې ووهلو، او ما هغه ته (يرحمک الله ) وويل، نو په لمونځ کې حاضرو خلکو په سترګو وخوړم، نو ما هغو ته وويل: مور مو ستاسو په غم وژاړي! ولی ماته داسي ګوري؟ نو پخپلو لاسونو يي خپل ځنګلونه ټپول او غوښتل يي چې ما غلی کړي نو زه غلی شوم، نو کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم لمونځ پای ته ورسوه، زما د مور او پلار د هغه نه جار شي هيڅ يو داسی با اخلاقه ښونکي مې نه د هغه مخکي ليدلی وو او نه هغه نه وروسته، نو ماته يی ډېر غوره ډول دا راوښودل، او په الله قسم نه مانه خپه شو او نه يي زه ووهلم او نه کنځلي يي راته وکړي او نه يي سپکاوي وکړ راته، بلکي وی فرمايل: دا لمونځ داسی يو عبادت دي چې هيڅ ځيز او هيڅ خبره د خلکو ورکي ځاي نلري، بلکي دا تسبيح تکبير او د قرانکريم تلاوت دی.
بی له شکه که مونږ په دقيق ډول سره د الله تعالی په کتاب او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پر احاديثو نظر وکړو نو حتما په هغه کې يو ډول تحمل تيريدل او اسانتيا او نرمښت د خلکو سره پيدا کووچې ټول ډولونه د تندروي افراطيت او ناخوالي لمنځه وړي چې نن دا ټول نړۍ تری رنځ وړي، نو د عقيدي په برخه کې: دا مونږ مومو چې اسلام هيڅوک ددغه

دین په منلو په زور سره ندي مجبوره کړي، لکه چې الله تعالی فرمايي: **«لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ»** ژباړه:« دين په چارو کي څه زور او مجبوروول نشته، سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جلا کړای شوې ده» او په بل ايت کې فرمايي:**« وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَأٓمَنَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ كُلُّهُمۡ جَمِيعًاۚ أَفَأَنتَ تُكۡرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ»** ژباړه:« که ستا د رب اراده دا وای (چې په ځمکه کښې دي ټول خلک مؤمنان او حکم منونکي اوسي)، نو د ځمکي ټولو اوسېدونکو به ايمان راوړی وای نو ايا ته خلك مجبور وې چې ايمان راوړي؟».

او د عباداتو په برخه کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په اساني او د تندي څخه د کار اخيستنی نه منع کړی او فرمايي: له تاسو له جملی څخه داسی کسان شته چې خلک د دين څخه په کرکې مجبوره کوي، نو هغه څوک چې په لمونځ کي د خلکو امامت کوي نو بايد لمونځ په اسانه ترسره کړی، ځکه چې د هغوی په منځ کې ناروغ، ناتوان او اړمند وجود لري.، او کله چې ځيني خلکو د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه شکايت وکړه چې لمونځ پرهغوي اوږدوي، پيمغبر صلی الله عليه وسلم معلمانه ډول هغه ته وويل: ای معاذه! دري واره يي وويل: ايا ته فتنه اچونکی يی؟پخپل مونځ کې (والشمس و ضحاها)، (و سبح اسم ربک الاعلی) او دهغه په شان نور ايتونه تلاوت کړه، او په بل روايت کې داسی راغلي: ځکه تر شا دی سپين ږيري، ناتوانه خلک، او اړمند خلک لومنځ اداء کوي.، او د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايی:نبي کريم جومات ته ورداخل شو وی ليدل چې يو پړي د دوو ديوالونو ترمنځ پروت دی، نو پوښتنه يي وکړه: دا پړی د څه لپاره دی؟ وويل شو: دا پړی د زينب دی، هرکله چې ستړي شي نو پرهغه تکيه کوي، نبي کريم وفرمايل: نه، دا خلاص کړی، تاسو د جملي څخه تر هغه حد پوري لمونځ اداء کړي چې تر وسه مو پوره وي نو کله چې ستړي شوی نو کښيني.، او جابر رضی الله عنه وايی: يو ورځ په سفر ووتلو نو يو د زمونږ نه په

سر یی تیږه ولګیده او زخمي شو، او وروسته احتلام شو، نو د خپل د سفر ملګرو نه یی پوښتنه وکړه چې آیا ماته اجازه شته چې تیمم وکړم؟ وویل شو فکر نکوو چې تاته به د تیمم اجازه وي، پداسي حال کي چې ته د اوبو د استعمالولو توانایی لری، نو هغه په اوبو غسل وکړ او مړ شو، نو کله چې پیغمبر صلی الله وسلم ته راغلو هغه صلی الله علیه وسلم ددی واقعه نه خبر شو، وفرمایل: هغه یي ووژلو خداي دی دوي ووژني، کله چې نه پوهیږي نو ولي پوښتنه نه کوي ځکه چې د ناداني د درد دوا پوښتنه کول دي، هغه ته دا کافي وه چې اول تیمم یي کړای وای بیا به یي پخپل ټپ یو ټوټه یي تړلی وای ، او د ټپ ځاي باندي یي مسح کړی وای او نور متباقي ځان یي وینځلای وای.، کله چې عمران بن حصین ناروغ وو پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه ته زدکړه ورکړه وی فرمایل: لمونځ دی په ولاړه اداء کړه، که ودریدلی نشي نو په ناسته اداء کړه که په ناسته نشی نو پریو اړخ سمله او اداء کړه.، او همداسی فرمایي: د ځمکي هر ځاي ماته جومات او پاک ګڼل شوی، نو کله چې زما یو امتي ته د لمونځ وخت ورڅرګند شو نو په هر ځاي کې چې وي باید خپل لمونځ اداء کړي.، په واقعیت کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم نرمښت او تحمل یي په عملي ډول بیان کړی، نو د اسلام یو رڼا لرونکي څیره بیانوي او د اسلام په لویوالي ګواهي ورکوي، ګوروچې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د لمونځ په هکله چې د دین لوي شعار دی داسی فرمایي: زه کله چې لمونځ ته ورددنه کیږم نو غواړم خپل لمونځ اوږد کړم مګر کله چې د یو ماشوم د ژړا غږ اورم نو خپل لمونځ اسانه او لنډ اداء کوم ځکه پوهیږم چې د دغه ماشوم مور څومره د ماشوم په ژړا ځوریږی.

او د معاملاتو په برخه کي: اسلامي شریعت پر نرمښت تحمل، او د خلکو ترمنځ د سختی لري کولو ته په خرڅ او پلور کي هڅونه کوي، لکه چې الله تعالی فرمایي:**« يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا»**

ژباړه:« اې مؤمنانو! په خپلو منځو کښې يو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر (خورئ يې) که راکړه ورکړه د دواړو خواو په خوښۍ سره (په روا توګه) وي، او خپل ځانونه مه وژنئ. باور ولرئ چې الله پر تاسي مهربان دی.» او په بل آيت کې فرمايي:« **وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ**» ژباړه:« که ستاسي پوروړی تنګلاسی وي، نو تر لاس چلېدو پوري مهلت ورکړئ؛ او که خيرات وکړئ، نو دا ستاسي لپاره ډېره ښه ده که پوهېږئ!»، او نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:الله تعالی هغه سړي چې پخپل خرڅ او دخپل پور په ترلاسه کولو کې د نرمښت او آساني نه کار اخلي خپل رحمت پرې خوروي.، او همداسې وايي: الله تعالی خپل با تحمله او د نرمښت لرونکي بنده چې د خپل پور په اخيستلو او په پور ورکولو کې نرمښت او آساني نه کار اخلي نو د خپل د رحمت سيوری پري خوروي.،سماحت او تحمل په پلور کې پدي معنی چې پلورونکي بخيل او سخت نيونکی نه وي، او تل خپل ګټي ته پام ونکړي، او د خلکو د اړ شيانو باندی احتکار ونکړي، کله چې نورو ته ورکړه کوي نو په کم وزن دی ورنکړي.، او تحمل په اخيستلو کې پدي معنی چې اخيستونکي بايد د پلورنکي سره سخت ګير و نه وسي، او د خلکو حق کم نکړي.، او تحمل د پور په غوښتلو کې پدي معنی چې يو انسان بايد خپل پور په ډير نرمښت او مهرباني سره هغه چاته يي چې پور ورکړی وغواړي.
او پيغمبر صلی الله عليه وسلم خبرداری ورکوي چې سماحت او نرمښت په معاملاتو کې په آخرت کې د ژغورني د لاملونو څخه يو لامل ګرځي، څکه فرمايي: يو سړي د خپل سماحت او نرمښت له وجه نه چې په پلورل او اخيستلو کې لرلو جنت ته وردننه شو.، او په بل حديث کې وايي: يو سړي ستاسو د مخکی امتونو نه محاسبه شو، نو هيڅ يو نيک عمل يي نه درلوده، بغير لدي چې هغه يو مالداره سړي وو او تل د خلکو سره يي تعامل کولو نو خپل غلامانو ته يي پدي امر کولو چې څوک چې سه نلري

هغوي معاف کړي، فرمايي: الله تعالی وويل: مونږ پدي کار کې ترهغه غوره يو، نو هغه معاف کړی.، او په بل حديث کې چې په هغه کې د قيامت د رځي ځيني حالات ورکي بيانوي داسی فرمايي: الله تعالی وايي: د دوزخ د اور په طرف وګوري، آيا تاسو څوک ګوري چې نيک کار يي ترسره کړی وي؟ وايي: نو د د دوزخ د اور په دننه کې يو شخص رامومي او هغه ته وايي: ايا تا هيڅ يو نيک کار ندی ترسره کړی؟وايي: نه، بغير لدی چې په دنيا کې مي په راکړه او ورکړه کې خلکو سره مي بخښنه کوله، نو الله تعالی ملائکو ته وايي: دا زما بنده ته بخښنه وکړي په هماغه ډول چې د نور زما بندګانو ته يي بخښنه کوله.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

په واقعيت کې په اسلام کې د زغم او نرمښت مبداء يواځې ځينو مسلمانانو د ځينو نورو مسلمانانو سره خاص کړی شوی ندی، بلکي دا د ژوند يو عمومي منهج دی چې ټولو خلکو ته شامليږی، الله تعالی خپلو مسلمانو بندګانو ته امر کوي چې د ټولو خلکو سره نيک او ښه اخلاق وکړي: (و قولوا للناس حسنا) «خلکو ته ښې خبري کوئ»، او همداسی فرمايي:**« لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ»** ژباړه:« الله تاسي له دې خبري څخه نه منع کوي چي له هغو خلکو سره د نېکۍ او عدل چلند

وکړئ چي د دين په باب يي ستاسي سره جنګ ندی کړی او تاسي يي له خپلو کورونو څخه نه ياست ايستلي. الله عدل کوونکي خوښوي»، او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما کله چې يو حيوان يي قرباني کولو خپل ځوي ته يی وويل: آيا زمونږ هغه يهودي ګاونډي ته دي غوښه ورکړه؟ آيا د هغه د غوښي نه تا زمونږ هغه يهودي ګاونډي ته ورکړه؟، ما د پيغمبر صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي چې فرمايي:تل جبريئل عليه السلام ماته به د ګاونډي په هکله توصيه کوله تر هغه حده پوری چې ما فکر کولو چې په ميراث کې هم برخمن شي.

او ځيني نور د سماحت د ډولونو څخه د خپل نفس سره زغم او نرمښت دی دا پدي معنا چې سخاوت او نفقه کول د ټولو خلکو لپاره وي، امام شافعي رحمه الله وايي:

سخاوتمندی ته پناه يوسه لکه څرنګه چې ويل کيږي= سخاوت ټول عيبونه پټوي

هيڅکله دښمنان ذليله مه ګڼه= ځکه تمسخر په دښمنانو بلا ده

او د نرمښت او زغم تمه د بخيل نه مکوه=ځکه په اور کې د تندی لپآره اوبه نشته.

يا الله مونږ ته د خپل دين د سم پيژندني درک په برخه کړه، او مونږ ته هدايت وکړه او زمونږ پواسطه د نورو هدايت وکړه، او مونږ د نورو د هدايت لامل وګرځوه.